fedasil
AGENCE FEDERALE POUR
L'ACCUEIL DES DEMANDEURS D'ASILE

Towards a more integrated migration policy, made possible by the AMIF

# د بیرته ستنیدو تړلاره

## د دعوطلبانه بیرته ستنیدونکو لپاره معلوماتی او مرستندوی تړلاره

دا معلوماتی پاڼه  د پناه غوښتونکو او د هغوی د تولنیزو همکارانو لپاره ده



تاسو په بلجیم کی پناه غوښتی ده. که چیری تاسو منفی ځواب اخیستی وي، نو باید خپل د راتلونکی په هکله پریکړه وکړئ. مونږ کولای شو تاسو سره ستاسو د دعوطلبانه بیرته تږ کی مرسته وکړو.

فیدازیل یو مرستندوی او معلوماتی لاربنود لری، کوم چی مونږ د "بیرته ستنیدو پروسئ" په نوم یادو. هر پناه غوښتونکی دا لاربنود تعقیبوي. ستاسو تولنیز همکار (اسیستانټ) به تاسو سره په دی برخه کی مرسته وکړی.

### ۱. ستاسو د پناه غوښتنی په وخت کی

کله چی تاسو د پناه غوښتنی وړاندیز کوئ، تاسو ته د بیرته تړ په باب معلومات درکول کیږي. په حقیقت کی تاسو کولای شی هره شیبه چی وغواړی بیرته خپل هیواد ته ستانه شی، که څه هم ستاسو د پناه غوښتنی پروسه په جریان کی وي.

### ۲. تاسو منفی ځواب اخیستی

که تاسو منفی ځواب واخیست (که CGRS[1] تاسو ته د پناه غوښتونکی حیثیت درنکړی)، ستاسو تولنیز همکار به ستاسو د راتلونکو ټاکنو په باب تاسو سره مرسته وکړي، په شمول د بیرته ستنیدو. دغه همکار به تاسو سره شخصی اړیکه ونیسی.

### ۳. منفی ځواب تثبیت شو

تاسو بنایی د  CGRS  د منفی فیصلی پر ضد کوم اقدام وکړی. که CCE[2] ستاسو وړاندیز رد کړی، دا به ستاسو د پناه غوښتنی پای وی او تاسو باید د قبولیدو ځای او یا کور پریږدی.
ستاسو پاتی کیدل یوازی د بیرته لیګلو پرانیستی مرکز کی تمدید کیدای شی.

[1] CGRS: د بی وطنه او پناه غوښتونکو لپاره عمومی کمیساری

[2] CCE: د بهرنیانو د شخړو شورا

## د بیرته ستنیدو پرانیستی ځایونه

### پرانیستی مرکز

د بیرته ستنیدو ځایونه د فیدازیل په هر مرکز کی پیدا کیږی او دغه ځایونه ټول پرانیستی ځایونه دی. نو همدا راز تاسو کولای شی چی په خپله خوښه هر کله چی وغواړی راشی.

### ۳۰ ورځی

د بیرته ستنیدو ځایونو کی یوازی ۳۰ ورځی پاتی کیدلای شی. په دغی موده کی، تاسو د بیرته ستنیدو مشاور سره ۳ ملاقاتونه لری.

### د بیرته ستنیدو مشاور

تاسو سره د بیرته ستنیدو مشاور لخوا چی ستاسو د ټولنیز همکار (اسیستانټ) سره په تماس کی وي مرسته کیږی. دغه مشاور تاسو ته د خپل وطن ته بیرته ستنیدو په باب لارښوینه کوي او د تصمیم نیولو په برخه کی مرسته کوی.

### د بیا استقرار لپاره مرسته

په پرانیستی مرکز کی ستاسو د استوګنی په موده کی، د بیرته ستنیدو مشاور ستاسو خصوصی وضعیت بیا ځلي ګوري او د بیرته ستنیدو اړونده توضیحات درکوي. دغه ته مونږ ستاسو په اصلی وطن کی د بیا استقرار لپاره مرسته وایو.

### د مهاجرت دفتر

وروسته د CCE لخوا د آخری منفی ځواب اخیستلو، ستاسو د پناه غوښتنی پروسه پای ته راسیږي. د بیرته ستنیدو پرانیستو مرکزونو کی د مهاجرت د دفتر یو کارکونکی حاضر وی چی ستاسو د کیــز نضارت وکړي.

### پس له ۳۰ ورځو

د بیرته ستنیدو ځای کی استوګنه پس له ۳۰ ورځو پای ته رسیږي. دغه استوګنه کیدای شی ستاسو د دعوطلبانه بیرته ستنیدلو تیارۍ پوری تمدید شي. که چیری تاسو دعوطلبانه دغه مرکز ترک نکړی، د مهاجرت دفتر کولای شی تاسو په زور وباسی.

## دعوطلبانه بیرته ستنیدل

تاسو کولای شی هر وخت د بیرته ستنیدلو غوښتنه وکړی. سره له دی چي مونږ پوهیږو چی دا ډیره ګرانه پریکړه ده، خو فیدازیل چمتو دی چی ستاسو د بیرته ستنیدو په لاره کی د شته ستونزو په حل کولو کی تاسو سره مرسته وکړي.

که د دعوطلبانه بیرته ستنیدو په هکله نور معلومات غواړی، خپل ټولنیز همکار څخه پوښتنه کولای شی.

همدا راز کولای شی په دغی وړیا شمیری اړیکی ونیسی: ۰۸۰۰۳۲۷۴۵ (د سهار ۹ بجو څخه ترماذیګر ۵ بجو پورې)

دغه معلومات د فیدازیل هر دفتر څخه ترلاسه کیدای شي (په بروکسل، انتورپن، ګنت او لیئژ کښی) او یا هم یو زمونږ د همکارانو څخه. تاسو د دغو همکارانو پتئ په دی بریښنالیک کی پیدا کوی شی: **ewww.retourvolontaire.b**

### پاملرنه!

که چیری تاسو په بلجیم کی پناه غوښتونکي نه اوسی او یا غیر قانونی ژوند کوې، بیا هم دعوطلبانه بیرته خپل هیواد ته ستنیدای شی.